# د Medicare د ګډې د سپما پروګرام د پاملرنې مسول سازمان

*په ګډه کارکوو ترڅو له تاسو څخه تر ټولو غوره پاملرنه وکړو.*

**د پاملرنې مسول سازمان (ACO) يوه برخه ده. موږ له نورو ډاکټرانو، روغتونونو او د روغتيايي پاملرنې چمتوکوونکو سره په ګډه کارکوو تر څو ډاډه کړو چې تاسو تر ټولو غوره پاملرنه ترلاسه کوئ.**

## *د ښه کېدلو او سالم اوسېدلو په موخه موږ ستاسو لپاره همغږي شوې پاملرنه وړاندې کوو*

- تاسو پر ناروغ متمرکزه پاملرنه ترلاسه کوئ چې ستاسو په اړتياو باندې تمرکز کوي.
- ستاسو د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکې کولی شي چې د معاينې همدا پايلې، درملنې او نسخې وګوري.
- ډېره همغږي د طبي تيروتنو او د درملو تعامل په مخنيوي کې مرسته کوي.
- تاسو کولی شئ چې د تکراري معاينو او ليدڅمنو په مخنيوي سره وخت، پيسې سپما او د خپګان مخنيوی وکړئ.
- ښه ارتباط کولی شي د Medicare درغلی او ضايعاتو په وړاندې خونديتوب کې مرسته وکړي.

## *زموږ له اړيکې او ملاتړ سره له خپلې پاملرنې تر ټولو ډېره ګټه پورته کړئ*

- کله چې تاسو د روغتيايي پاملرنې چمتوکوونکی غوره کوئ چې په يو ACO کې ګډون کوي، هغوی به له تاسو سره مرسته وکړي چې په سم وخت کې سمه پاملرنه ترلاسه کړئ. د اساسي پاملرنې ډاکټر غوره کولو لپاره، تاسو کولی شئ چې له [Medicare.gov](https://www.medicare.gov) څخه ليدنه وکړئ او خپل خوندي Medicare حساب ته ننه شئ (يا يې جوړ کړئ).
- Medicare ستاسو د روغتيايي معلوماتو د محرميت ساتنه کوي. که چېرې تاسو نه غواړئ چې Medicare ستاسو د روغتيايي پاملرنې له چمتوکوونکو سره د پاملرنې د همغږۍ په موخه معلومات شريک کړي، نو له 1-800-MEDICARE (1-800-633-4227) سره اړيکه ونيسئ. Medicare بيا هم کولی شي چې د چمتوکوونکي د کيفيت اندازه کولو لپاره عمومي معلومات شريک کړي. د نورو معلوماتو لپاره چې Medicare څه ډول له معلوماتو څخه ګټه اخلي او له نورو سره يې شريکوي، له [Medicare.gov](https://www.medicare.gov) څخه ليدنه وکړئ او د "محرميت" لټون وکړئ.

## *آيا نور معلومات غواړئ؟*

**زموږ د معلوماتو مخکيني ميز کې پوښتنه يا له موږ سره په __________________ اړيکه ونيسئ.** همدارنګه تاسو کولی شئ له [Medicare.gov](https://www.medicare.gov) څخه ليدنه يا 1-800-MEDICARE (1-800-633-4227) سره اړيکه ونيسئ. د TTY کاروونکي کولی شي له 1-877-486-2048 سره اړيکه ونيسي.

د Medicare اړوند اندیښنې يا شکايت په اړه د راپور ورکولو لپاره، له 1-800-MEDICARE (1-800-633-4227) سره اړيکه ونيسئ.

د پاملرنې مسئولو سازمانونو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، دلته د QR کوډ سکن کړئ:

د Medicare
د ګډې سپما
پروګرام